د نه زغم ، انسانيت سره د دښمنۍ او زورزياتي پرضد
نړۍ ته د پرانيستوالي، پيوستون، دموکراسۍ او د قانون پر بنسټ ولاړ دولت لپاره اتحاد

پر ټولو غږ

# انساني کرامت د تعرض وړ نه دی

**ډاکټر ذکريا التوغ**
د مسلمانانو د هماهنګۍ شورا وياند

**پروفيسر ډاکټر هاينريش بيدفورد- شټروم**
په جرمني کي د پروتستانټو کليسا شورا مشر (EKD)

**راينر هوفمن**
د جرمني د کارګري ټولنو اتحاديي مشر (DGB)

**انګو کرامر**
په جرمني کي د کار ورکوونکو ټولنو د کنفدراسيون رئيس (BDA)

**کارډينال ډاکټر راينهار مارکس**
ستر اسقف، د جرمني د اسقفانو کنفرانس مشر

**پروفيسر رولف روزينبروک**
په جرمني کي د خپلي خوښي کارونو ټولني رئيس (BAGFW)

**ډاکټر يوزيف شوستر**
په جرمني کي د څوانانو د مرکزي شورا رئيس

**پروفيسر کريستيان هوپنر**
د جرمني د فرهنګي شورا رئيس

**آلفونس هورمن**
د جرمني د المپيک اتحاديي رئيس

**پروفيسر ډاکټر کای نيبرت**
د جرمني د طبيعت ساتني ټولني رئيس (DNR)

آلمان يو دموکرات او نړۍ ته پرانيستی هيواد دی، چي د ارزښتونو او اقتصاد پر بنسټ ولاړ اروپايي اتحاديي د غړي په توګه د بشري جهان شمولو حقونو ته ژمن دی. په آلمان کي له لسيزو راهيسي د بېلابېل ملي، کلتوري او مذهبي شاليد لرونکي انسانان سره ګډ ژوند کوي. د انساني کرامت ساتنه چي په اساسي قانون کي قيد شوی، د ټولو انسانانو لپاره صدق کوي، که هغوی له نسلونو راهيسي دلته ژوند کوي، که هغوی ناقلين دي او که يا هغوی آلمان ته د مهاجرو په توګه راغلي دي.

څوک چي په خپل هيواد کي د جنګ او تعقيب له کبله خپل ژوند او ځاني سلامتيا له ګواښ سره مخامخويني، په اروپا کي د حفاظت مستحق ګڼل کيږي. موږ د دې پلوي کوو چي آلمان به په راتلونکي کي هم خپل بشر دوستانه مکلفيتونه پوره کوي. د دې له پاره چي د تېښتي له عواملو سره اغېزناکه مبارزه وشي او د ډېرو پناه غوښتونکو له تقاضاو سره وړ چلن وشي، بې له شکه يوې ګډې اروپايي حل لاري ته اړتيا ليدل کيږي. د اروپا د اتحاديې هيڅ غړی هېواد بايد له ګډ مسووليت څخه ډډه ونه کړي.

د ډېرو کډوالو منل او ادغام له سترو ټولنيزو، اقتصادي او اجتماعي ستونزو سره تړلي کار دی. د زړونو ښځينه او نارينه وګړو او همدراز د بېلابېلو دولتي ادارو، پوليسو، مرستندويانو او رفاهي سازمانونو اصلي او دغه راز افتخاري ښځينه او نارينه کارکوونکي د ستايلو وړ کارونه کوي. دغه ژمنتيا د ټولنيز پيوستون اصلي نښه ده. مرستي ته پرله پسي چمتوالی پر دی شاهدي ورکوي چي پيوستون او بشريت پالنه زموږ د ټولني د ښکاره ارزښتونو څخه شمېرل کيږي.

آلمان د خپلي راتلونکي توانمندۍ له پاره زياتو پانګونو ته اړتيا لري. دغه خبره له اوږدې مودې راهيسي ليدل شوي، خو د کډوالو د لوړ شمېر له کبله اوس تر بل هر وخت زياته ښېرنی برېښي. موږ په ښوونه او روزنه، مسلکی زده کړو، کارموندنه، کافي ارزانو استوګنځايونو، عامه زېربناو او له زورزياتيو څخه د خونديتوب په برخه کي پانګونو ته اړتيا لرو. هغه انسانان چي د بې وزلی، بې کاری او ټولنيزې ناډاډمنتيا څخه اغېزمن شوي وي، بايد د اوسنيو ستونزو په حلولو کي له پامه ونه غورځول شي. ټول بايد ورته چانسونه ولري چي په ټولنيز ژوند کي ونډه واخلي.

له انساني کرامت سره سم د کډوالو منل، د هغوی ادغام او د ټولنيز، کلتوري او اجتماعي درز راوستني مخنيوی يوه ګډه وظيفه ده. مرکزي حکومت، ايالتونه او ناحيي، اقتصادي مؤسسي ، د کارګرانو اتحاديې، کليساګاني او مذهبي ټولني، د عامي رفاه سازمانونه او بشيره مدني ټولنه بايد په پر له پسي توګه خپل دغه مسووليت ومني. موږ په دې باور يو چي هغه ستري ننګوني چي ورسره مخامخ يو، کولای شو په ګډه رفع کړو.

سوله يز ګډ ژوند او آلماني ټولني ته ورګډېدل هغه مهال بريالي کېدای شي چي د ټولو له خوا زموږ د اساسي قانون ارزښتونه او زموږ ټولنيز ګډ ژوند ته غاړه کېښودل شي. دا په دې معنی ده چي په آزاده توګه د ديني مراسمو تر سره کېدنه بايد پرته له توپيرونو په رسميت وپېژندل شي. دا په دې معنی هم ده چي هيڅوک بايد له خپلو کلتوري او ديني رُسومو څخه د ساترې پردې په توګه ناوړه استفاده ونه کړي، د دې له پاره چي د عقيدې

## د نه زغم ، انسانيت سره د دښمنۍ او زورزياتي پرضد
## نړۍ ته د پرانيستوالي، پيوستون، دموکراسۍ او د قانون پر بنسټ ولاړ دولت لپاره اتحاد

او وجدان د آزادۍ اساسي حقونه، بدني خپلواکمنتوب، يا د ښځو او نارينه وو د برابرو حقونو اصل تر سوال لاندې راولي يا له لړکيو سره توپيري چلن وکړي. په هغو مواردو کې چې د دولت د قهري قدرت انحصار تر پښو لاندې يا جرمونه تر سره کيږي، بايد عاملين د جزايي قانون تر تعقيب لاندې ونيول شي. د جرمونو هغه مرتکبين چې بهرنۍ تابعيت لري، بايد په آلمان کې د اقامت د حق له پلوه ته رسېدلو سره حساب وکړي.

ډېر شمېر کډوال به يا د اوږدې مودې له پاره يا د تل له پاره زموږ سره پاتې شي. د هغوی هر يو بايد د انسان په توګه چې خپل ځانګړی برخليک اوځيني وخت ربړونکې تجربې هم لري، وپيژندل شي. د ادغام اغېزناک او پاتېدونکی بريالیتوب مناسبو امکاناتو، ټولنيزې برخې اخيستنې او دغه راز د ادغام لپاره چمتووالي ته اړتيا لري. د آلماني ژبې زده کړه ورته همداسې اړينه ده لکه د ادغام د لارو چارو، ښوونې او روزنې، کلتور، کار او سپورټ ته ډېر ژر لاسرسی.

د کار بازار ته ورګډېدل د کډوالو د اغېزمن او پاتېدونکي ادغام يو اساسي شرط دی. د دې موخې له پاره د کار د زده کړې حرفوي پروګرامونه چې د مسلکي زده کړو او د هغوی بريالی پای ته رسونې ته لاره هواروي، همداسې مهم دي لکه د کار د شروع کولو پر مهال د ظرفيت لوړولو تدابير. دغه پروګرامونه او تدابير بايد له يوې ګډې ستراتيژۍ سره يو ځای کړل شي، د دې له پاره چې د اقتصادي او ټولنيز مشارکت چانسونه رامنځ ته شي.

موږ غواړو چې دموکراسۍ (ولسواکۍ) او د قانون پر بنسټ ولاړ دولت پياوړی کړو. موږ د پيوستون او نړۍ ته د پرانيستوالي پلويتوب کوو. زموږ باور دا دی چې: هر هغه څوک چې زموږ په هېواد کې پناه غواړي، بايد يوې منصفانه او د قانون دولت پر اصولو ولاړې ارزونې ته لاسرسی ولري. هغه کسان هم چې د اقتصادي خوارۍ او بې وزلۍ له کبله آلمان ته راغلي وي، او د قانون دولت له اصولو سره سم ارزونې وروسته د پاتې کېدو چانس او امکان ونه لري، او په دې اساس بايد خپل هېواد ته ستانه شي، بايد په خواخوږۍ او درناوي چلن ورسره وشي.

په ډېرې اندېښنې سره موږ دغه حقيقت ته ګورو چې ښې اړخي او ولس پارونکې ډلې دا مهال د خلکو د تېښتې او کډوالۍ له موضوع څخه ګټه اخلي، د دې له پاره چې دښمنيو ته لمن ووهي او زموږ د آزادۍ پر بنسټ ولاړ دموکراتيک نظم تر سوال لاندې راولي. موږ د هر ډول کرکې، توکم پالنې، سپکاوي او تاوتريخوالي په وړاندې درېږو.

### زموږ غږ پر ټولو باندې دا دی چې:

- د کډوالو او مهاجرينو په سر بحثونه بايد په موضوع پورې تړلي او د حل لارې پيدا کولو په موخه تر سره شي، نه دا چې عامه تعصب ته لمن ووهل شي او يا د ګوندونو سياسي علايق تعقيب شي،
- د انسان دښمنه څرګندونو او اعمالو پرضد بايد مخالفت وشي، که هغه د هر چا له خوا وي او د هرې ډلې په وړاندې وي،
- پرکډوالو او د هغوی پر استوګنځايونو باندې ، پر پوليسو، د رسنيو پر استازو او پرمرستندويانو باندې ښي اړخي او وغير انساني بريدونه بايد جزايي تعقيب لاندې ونيول شي.

### موږ د دغو مواردو څخه پلويتوب کوو:

- د ټولنيز پيوستون پياوړتيا
- د کلتوري، ديني او ټولنيزو توپيرونو په هکله رغنده خبرې اترې او د ليدنې کتنې د امکاناتو برابرول
- د پيوستون پر بنسټ ولاړ او يو پايښت لرونکي سياست چې په آلمان کې ټولو اوسېدونکو ته د برابرې ونډې اخيستنې لاره هواروي،
- د تعليم او زده کړو لا ښه امکانات چې د يو ښه ټولنيز ادغام له پاره کِلي ګڼله کيږي،
- د کډوالو داسې سياست چې زموږ د بشر دوستانه او بشرد حقونو له مکلفيتونو سره همغږی وي او د پناه غوښتنې د عريضو د منصفانه ارزونې تضمين کوي،
- د اساسي حقوقو ساتنه چې په هغو کې د دين او وجدان آزادي او د بدني بشپړتيا او خپلواکمنتوب حق او دغه راز د ښځو او نارينه و د برابرښت او د تبعيض منع په کې شامل دي،
- د زورزياتي، انسان سره د دښمنۍ او د پرديو سره د کرکې په وړاندې د ټولو انسانانو حفاظت
- يو مناسب مالي تخصيص، څو موجوده او د کډوالو د منلو سره تړلې اضافه لګښتونه او د مرکزي حکومت، اىالاتو او ناحيو اضافه دندې د دايمي ادغام په موخه په ښه وجه تر سره کړای شي،
- له جرايمو سره د مبارزې او له زور زياتي پرته د يو ګډ سوليز ژوند له پاره د دولتي قدرت د انحصار تطبيق،
- د داسې يوې اروپا چې د انسان کرامت ساتنه کوي او د سوليز ګډ ژوند له پاره لرليدونه رامنځ ته کوي.

په تېره بيا د کړکېچونو په وخت کې بايد موږ د خپلې ټولنې د قانون پر بنسټ ولاړ دولت ټولنيزې او بشري لاس ته راوړنې له لاسه ورنه کړو. د انسان د کرامت ساتنه زموږ هدف دی. په همدې وجه موږ هڅه کوو، څو په آلمان او اروپا کې نړۍ ته د پرانيستوالي، پيوستون، ديموکراسۍ او د قانون پر بنسټ ولاړ دولت لپاره خپل قوتونه سره يو موټی کړو.